پوهندوی آصف بهاند

# افغان فزیکپوه

# ډاکټر محمد تنها د رڼا او ځلا پر لور

د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه

د محمد تنها پي اِچ ډي «PH.D»

زما په قهرمانانو کې یو محمد تنها دی



زما له پاره قهرمان هغه څوک نه دی چې د خدای مخلوق په عذابوي او د ژوند له نعمت څخه یې محروموي، زما له پاره قهرمان هغه څوک دی چې د خدای مخلوق ته د ښه ژوند کولو او د وطن د آبادولو علمي لارې چارې ښيي او د ښه ژوند کولو، پرمختګ آسانتیاوې ورته برابروي او...
زما په دغو قهرمانانو کې یو محمد تنها دی.

(آصف بهاند)

ډاکټر محمد تنها یو متخصص، په کار میئن او نه ستړی‌کېدونکی شخص دی. د خپلو هڅو او زیار په پایله کې یې ګڼې بریاوې ترلاسه کړې دي. لیسانس په کابل پوهنتون کې، ماستري او ډوکتورا په جرمني کې، په خپل وطن کې یې هرڅه بې‌ارزښته وارزول شول، بېرته جرمني ته ستون شو او د خپلوزده‌کړو او لیاقت له مخې یې، په خپل مسلک کې کار پیل کړ او دا دی له ډېر کار او خواریو څخه وروسته یوه بله ستره بریا هم ورپه‌برخه شوه چې افغانستان ته، افغانانو ته، خپلې کورنۍ ته او پوهنتوني لویې کورنۍ ته یې بل ویاړ هم وګاټه. ډاکټر محمد تنها په جرمني کې د اتومي انرژۍ د تخنیکي لابراتوارونو رئیس ګمارل شوی دی.

د ډاکټر تنها د علمي شخصیت او بریاوو په باب باید ګڼې مقالې او کتابونه ولیکل شي، ما لا پخوا د ده تر دې بریا مخکې دوې مقالې ورته لیکلې دي:

ـ د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه، د محمد تنها پي اِچ ډي «PH.D»،

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_de_tyarolapara_rana.pdf

ــ د کوچنیانو ادبیات د یوه ساینسپوه له نظره.

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_de_tanha_nazar.pdf

ځوروځې کېږي چې په میډیا کې د محمد تنها د نوي بریا په باب نظریات راڅرګند شوي دي. په همدې مناسبت به زه لومړی د افغان فزیکپوه ډاکټر محمد تنها بیوګرافي یوځل بیا د دې له پاره راواخلم چې هغو کسانو ته یوځواب وي چې وایي: «نو خپل هیواد او خپل ولس ته یې څه ګټه رسیږي چې ستا اتل دی!» او بیا به د ده د نوې بریا په مناسبت د ځینو قلموالو نظریات هم راواخلم.

کله چې محمد تنها د ۲۰۱۷ کال په ورستیو کې د خپلې ډوکتورا بریالی دفاع ترسره کړه، ما د یوې مقالې په ترڅ کې داسې ورته لیکلي وو:

«محمد تنها دري کاله  او اته میاشتې مخکې له خپل وطن افغانستان څخه، د امیدونو له یو کاروان سره د جرمني هنوور پوهنتون ته د لوړو زدکړو او نویو تجربو د تر لاسه کولو په پار راغلی و او دا دی اوس په هسکه غاړه او د خپلو خلکو او وطن له پاره لا نورو هیلو سره ډک لاس د خدمت له پاره چمتو شو.

محمد تنها نه یوازې د ځان او خپلې کورنۍ له پاره د ویاړ یوه شمله شوه، بلکې د ټولو افغانانو او ټول وطن له پاره ویاړ شو او له ټولو نه وړاندې د افغانستان د پوهنتوني کورنۍ او علمي کورنۍ او د هغوي د اصلي ټاټوبي کابل پوهنتون له پاره، چې په افغانستان کې د پوهنتونونو مور ګڼل کیږي؛ د ویاړ داسې هسکه څوکه ګڼل کیږي لکه د پامیر او شمشاد هسکې څوکې په څېر.

« PH.D» ډګري محمد تنها دفاع کړه، خوشاله زه یم ورته او داسې ورته خوشاله یم، لکه خپله مې چې دفاع کړې وي.

له تاندې ځوانۍ نه را په دیخوا مې، د ژوند په لومړیتوبونو کې یو لومړیتوب د لوړو زدکړو سر ته رسول و، هغه هم د «PH.D»  تر کچې. تر ام اې (M.A) پورې ورجګ شوم، په بریالیتوب سره مې هغه هم دفاع کړ، کوردننه هغه وخت د «PH.D» د زدکړو له پاره آسانتیاوې نه وې. بیا وروسته چې پتنګان؟ را ورسیدل هر څه سره ګډ وډ شول، د روزګار ناخوالو وچ کړل، د جفا ګانو بادونو په هوا کړل او...

اوس پوهنتوني او علمي کړیو ته ګران او ما ته ګران محمد تنها زما ارمان پوره کړ. نن (۲۰۱۷/۱۲/۰۱) سهار مې د ده د بریالی دفاع پر خبر سترګې خوږې شوې. کوم بل دوست لیکلي و، خو ما د ده فیسبوک پاڼې ته سر ورښکاره کړ، هلته مې د ده په قلم دا متن له څو عکسونو سره تر سترګو شو:

«پرون مې د آلمان هانوور پوهنتون د هستوي او وړانګو فزیک له څانګې څخه له پوره درې کاله او اته میاشتو څېړنیز او تدریسي کار وروسته، په اعلی درجه خپله ډوکتورا دفاع کړه. د ډوکتورا موضوع مې «د کابل او هغه ته څېرمه سیمو په تیږو، اوبو، خاوره او هوا کې د یورانیمو، توریمو، پوتاسیمو او راډون اندازې مالومول» وو.

په دې څانګه کې وروستی ډوکتورا له نن څخه پوره ۴۳ کاله دمخه، پوهاند ډاکټر عبدالحی نظیفي د پخوانی یوګوسلاویا د بلګراډ له ښار څخه اخیستې وه. په دې تړاو یو بل نامي خبر هم سته خو د ډیسمبر په ۱۲ به یې د پوهنتون له رسمي اعلان څخه وروسته درته ووایم. د کورنۍ، خپلوانو، خاصو نږدې ملګرو او مخلصو آشنایانو له مینې او اخلاص څخه جار سم چې په مادي او معنوي هڅو یې

تر دې ځایه را ورسولم. خدای مو په عزتونو لره. توبیت مې زښته برابر ده، ورکړۍ زړونه چې ډوکتوراوې ډېرې سي!»

ښنګه چې مخکي هم وویل شول د ډاکتر محمد تنها د نوې بریا له‌پاره په سوشیل‌میډیا کې ګڼ‌شمېر نظریات او د مبارکیو پیامونه وړاندې شوې دي، دلته به د بېلګې په ډول ځوپیامونه راواخلک:

وفا سمندر:

«له دومره سر پرېکېدو او (سر) ورکېدو او هېرېدو سره سره، افغانستان بیا هم سخت په ساه ډک دی.

ډاکتر محمد تنها یو داسې (سر) دی.

که د زورکرې او خاپوړو له مېنې لېرې شوی، خو هوښیاره دنیا (دی) وینې او ښه یې پېژني، چې څه د ابادولو (سر) دی.

(د جرمني اتومي‌انرجی اداري تخنیکي چارو ریاست) یو نوی پیل دی، تاسو به یې ګورئ، چې نورې څومره رڼاګانې راوړي لخیره سره!

د وطن او ولس آزادخیاله بچیه! له مخې دې رڼا اوسه!

ډاډه یو، چې دنیا کې به د خپل ولس د نوی شعور او ژوندی عقل، سیمبول وې، او لا به ځېلېږې!»

آصف بهاند:

«څه‌کم اته کاله مخکې مې د ډاکتر محمد تنها د لوړو زده‌کړو (phd) د پای‌ته رسېدو او ښې بریا په خاطر د «د افغانستان د تیارو له پاره یوه بله ډیوه، د محمد تنها پي اِچ ډي ترسرلیک لاندې یوه مفصله مقاله لیکلې وه.

د یادې مقالې په پیل کې ما لیکلي وو:

«زما په قهرمانانو کې یو محمد تنها دی.»

او دا دی زما قهرمان یوه بله قهرماني وکړه چې افغانستان، افغانانو، خپلې کورنۍ او پوهنتوني لویې کورنۍ ته یې بل ویاړ هم وګاټه.
ډاکتر محمد تنها په جرمني کې د اتومي انرژۍ د تخنیکي لاربښوونو رئیس ګمارل شوی دی.

دا بریا دې لومړی ده ته او بیا ټولو علم دوسته افغانانو ته مبارک وي!❤️💖»

د ډاکتر محمد تنها د نوې بریا او نوي ویاړ زما د پاسني پوست له پاره د تائیدي کامنتونو په لړ کې یو چا د شک او تردید په څېرو ګې داسې کامنت هم لیکلی دی:

زما د پاسني پیام په کامنت کې ښاغلي ډاکتر محمد نذیر

احمدزی داسې لیکلي دي:

«نو خپل هیواد او خپل ولس ته یې څه ګټه رسیږي چې ستا اتل دی!
د افغانستان لپاره به یې د اتومي انرژۍ د استفادې یوه کوچنې عملي پروژه کار کړې وه ترڅو اتل بلل شوی وی»

ما د ښاغلي احمدزي شک ته په لنډ ډول داسې ځواب ولیکه:

ښاغلی ډاکتر محمدنذیر احمدزی تاسو ته په ډېردرناوي باید عرض وکړم چې ډاکتر تنها تر فراغت وروسته په منډه او په بېړه بېرته خپل وطن افغانستان ته ځکه ستون شو چې د خپلو زدکړو او تجربو په دایره کې خپل وطن ته خدمت وکړي، خو اړوندو ځایونو کې نه یوازې ده ته د کار زمینه مساعده نهشوه، بلکې ګڼشمېر خنډونه هم ورته په مخ کې کېښودل شول. حتی په اتومي فزیک کې یې ترتولو لوړه ډګري، مسؤل شخص د ديپلومونو د ثبتولو په دفتر کې ثبت هم نه کړ.

ځکه ډاکتر صاحب تنها مجبوراً بېرته جرمني ته راغی، دلته یې کار پیل کړ او اوس د خپل کار او لیاقت له برکته دا نوی منصب ورکړل شوی دی. دا د فخر وړ خبره ده چې محمد تنها په علمي ډګر کې د افغانستان او افغانانو لهپاره یو بل ویاړ وګاټه: د دغو علمي دلایلو له مخې یې زه خپل قهرمان ګڼم.»

رحمت اریا:

«استاد بهاند صاحب! ځیني زیري داسې وي چې د پښتنو د عامو خبرو پر بنسټ ورته وایي چې دداسې خبر په اوریدلو مې من من غوښې واخیستې. دا په رښتیا د ډېر ویاړ ځای دئ زه ډاکټر تنها ته ستاسو له لارې د زړه له تله مبارکي وایم او د هغوی د نورو بریاوو او ویاړونو هیله کوم. ټولو ته دې مبارک وي.»

ډاکتر نوزادي احمد جان:

«مننه کوم ډاکتر صاحب، دا ستره بریا دی، ډاکتر، او اتل محمد تنها ته، دده و محترمی کورنی په ځانګړی ډول مور او پلار ته، ټول افغانستان ته او په ځانګړی ډول د قلم او کتاب د لاری و لارویانو ته ډیره ډیره مبارک وی، لار دی روښانه وی، بریا دی د بدو سترګو په امان وی او لا دی ډیر نور هم د علم او تکنولوژی د ستورو په ډک اسمان کی و ځلیږی. ستا سو څخه هم مننه چی په زړه پوری مضمون مو ورباندی لیکلی دی، قلم دی تاند اوسه.»

ډاکتر محمد تنها یو هېوادپال او د نوي نسل روزلو ته یو متعهد استاد و او اوس هم عملاً دا کار پرمخبیایي. ډاکتر تنها له خپلې رسمي دندې وراخوا د خپل وطن ځوانانو ته له یوې خوا د ښو کارونو یوه عملي بېلګه ده، له بلې خوا پرته له دې چې څه مادیات ترلاسه کړي، په خپلفارغ وخت کې د وطن ځوانانو ته د لوړو زدکړ قوانین تشریح کوي، د لوړو زدکړو لارې او ګودرونه ورښیي او ګڼشمېر نورې ښېګڼې د ده له علمي شخصیت سره ضمیمه دي.

دغسې مثبتو علمي خبرو د ډاکتر محمد تنها د طلایي شخصیت خښتې جوړې کړې دي، ځکه ما د خپل قهرمان خطاب ورته کړی دی.